

Kardan Publishing

# Kardan Research Journal (KRJ)

Recognized by the Ministry of Higher Education, Afghanistan.
Journal homepage: krj.kardan.edu.af

# پوهنتونونو کې د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استاذانو د نوښتیزو برنامو د حالت تحلیل

محمد حسین میاخېل
حسیب الله ایازي

**To cite this article:** میاخېل، م. ح.، او ایازي، ح. (2025). پوهنتونونو کې د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استاذانو د نوښتیزو برنامو د حالت تحلیل. *Kardan Research Journal*, 2(1), 82–91.

*© 2025 The Author(s). This open access Article is distributed under a Creative Commons Attribution (CC-BY) 4.0 license. Published by Kardan University*

*Published online: 13 July 2025*

*Submit your article to this journal*

Article

Kardan Research Journal
2 (1) 82 – 91
©2025 Kardan University
Kardan Publications
Kabul, Afghanistan

# پوهنتونونو کې د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استاذانو د نوښتیزو برنامو د حالت تحلیل

محمد حسین میاخېل
حسیب الله ایازي

Received: 24 Dec 24
Revised: 21 May 25
Accepted: 03 Jun 25
Published: 13 July 25

## لنډیز

*دغه څېړنه په پوهنتونونو کې د علمي اعتبار ورکونې پروسې او په یاده پروسه کې د استاذانو د نوښتیزو چارو او برنامو د وضعیت تحلیل ته ځانګړې شوې ده، د علمي اعتبار ورکونې پروسه د پوهنتونونو د ټولو علمي چارو د بشپړاوي او معیاري کېدو لپاره یوه دوامداره او پایله ورکونکې پروسه ده، پوهنتونونه د محصلینو مسلکي روزنې ترڅنګ د پالیسي سازو او نوښتګرو ادارو په حیث هم د ټولنې د پرمختګ په یون کې د کارنده کړنو د ترسره کولو رسالت په غاړه لري، زموږ د هېواد د پوهنتونونو ستونزه دا ده چې تر ډېره پکې استاذان د روزنې او ښوونې په برخه کې بوخت پاتې شوي دي، دا چې د اکاډمیک اعتبار ورکونې یا تضمین کیفیت پروسه د خپلو معیارونو په درلودلو سره د پوهنتونونو د اعتبار لوړولو لپاره یو سیستماتیک او اغېزمن بهیر دی، وخت په وخت د پایله ورکونکو کړنو په موخه کتنې او سمونې ته اړتیا لري، د یادې پروسې په اډانه کې د استاذانو د نوښتیزو چارو د ترسره کولو په موخه یو لړ بدلونونو ته اړتیا ده، چې د دې څېړنې موندنو د شته ستونزو حل لارې په ګوته کړي دي، دغه څېړنه په کیفي-تحلیلي او تشریحي – پرتلیز مېتود ترسره شوې، چې د وړاندیزونو په تطبیق او ترسراوۍ سره به یې پوهنتونونه د مسلکي ښوونې او روزنې ترڅنګ د پالیسي جوړونکو مرکزونو په توګه هم د هېواد په پرمختګ کې خپل کاري مسیر ومومي او په دې برخه کې به د پام وړ بدلون رامنځته شي.*

***کلیدي ټکي:*** *اکاډمیک اعتبار، پالیسي سازي، پوهنتونونه، څېړنه، نوښت*

## سریزه

هره پوهنه او مسلکي برخه وخت په وخت انکشاف او بدلون سره مخ کېږي، په ځانګړې توګه د ساینسي علومو برخه د څېړنیزو موندنو په اساس وخت په وخت رفارم او بدلون ته اړتیا لري، د انساني څېړنو په لړ کې ډېر داسې نوي موارد مخې ته راځي چې پخوا ورسره انسان نا آشنا وي، د همدې علمي بهیر د ښه مدیریت کولو او کنترول لپاره د کیفیت تضمین برخه په پوهنتونونو کې اړینه ده، چې وخت په وخت پلې شي او د علمي بهیر انکشاف، ستونزې او وړاندیزونه وڅاري او حل لارې یې مشخصې او تطبیق کړي. د کیفیت تضمین سیستم د تدریس نوښتونه او نوې میتودونه تشویقوي چې د تعلیمي پروسې په ښه کولو کې مرسته وکړي. د کیفیت تضمین د پوهنتونونو لپاره یو مهم اړخ دی چې د تعلیمي خدماتو او پروګرامونو د کیفیت په لوړولو کې مرسته کوي. دا سیستم د داخلي او بهرنۍ ارزونې پر بنسټ ولاړ دی. د ارزونې میتودونو کې خودي ارزونه، د زده کوونکو او استادانو نظر اخیستل او د پروګرامونو د ارزونې معیارونه شامل دي(Mukhatayev, 2024). د یونسکو د وروستي راپور له مخې، هغه پوهنتونونه چې د استادانو د مسلکي پرمختګ لپاره نوښتیزې برنامې لري، د څېړنې او تدریس په برخه کې غوره پایلې ترلاسه کوي. د یوې څېړنې پایلې ښیي چې نوښتیزې برنامې د استادانو د څېړنیزو او تدریسي وړتیاوو په پراختیا کې مثبت اغېز لري(Anderson, 2020).

زموږ هېواد چې څو لسيزو جګړو په هره برخه کې له ستونزو سره مخ کړی، د پوهنتونونو او لوړو زده کړو په برخه کې هم خورا ډېرې ستونزې او ننګونې په مخ کې لرو. د ټول هېواد په کچه داسې یو پوهنتون نه لرو چې په نړیوالو معتبرو پوهنتونونو کې حساب شي، د مرکز او زونونو پوهنتونونه د سیمې په سطحه هم اکمال او تجهیز شوي نه دي، نوي تأسیس شوي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسات په اکثرو ولایتونو کې خورا ډېرې ستونزې لري، هم په ودانیزو برخو کې هم د پرسونل او کادر په برخو کې او هم د نورو اکاډمیکو اړتیاوو په برخه کې لکه مجهز لابراتوارونه، کتابتونونه، تفریحي پارکونه، لیلیې او نورې برخې، چې دغه د علمي او مسلکي یون مخې ته پراته خنډونه دي او د دوی د له منځه وړلو لپاره د تضمین کیفیت برنامه خورا ګټوره ونډه لرلی شي. د نړیوال بانک د راپور له مخې هغه پوهنتونونه چې اکاډمیک اعتبار لري د نورو پوهنتونونو په پرتله غوره کارکردګي ښيي او د زده کوونکو په راجلبولو کې بریالي دي (Kumar et al, 2020).

دا چې دغه بهیر په څه ډول پرمخ ولاړ شي، پوهنتونونه څنګه خپل اکاډمیک معیارونه بشپړ کړي او د کادري برخو نوښتیزو چارو ته څنګه لاره هواره شي، که هغه د طبیعي علومو په برخه کې وي که د ټولنیزو علومو په برخه کې، په دې مقاله کې پرې بحث تر سره شوی او حل لارې یې په ګوته شوي دي، دا څېړنیزه مقاله د کیفي-تحلیلي او تشریحي – پرتلیز میتود په کارولو سره د پوهنتونونو د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استادانو نوښتیزې برنامې څېړي. د معلوماتو راټولولو لپاره له کتابتوني سرچینو څخه کار اخیستل شوی دی. څېړنه ښيي چې د استادانو نوښتونه د تدریس او څېړنې کیفیت ته وده ورکوي. د نوښتونو برنامې نه یوازې د استادانو د مهارتونو او پوهې لوړولو کې مرسته کوي، بلکې د څېړنې په کیفیت کې هم مثبت اغیز لري. د نوښتونو له لارې استادان کولی شي نوې میتودونه او تیکنالوژي د زده کړې او څېړنې په پروسو کې شاملې کړي چې دا د تعلیمي تجربې او د څېړنې پایلې ښې کوي. همدارنګه د نوښتونو برنامې د همکاریو او شراکتونو د پراختیا لپاره هم بنسټ جوړوي، چې د څېړنې په کیفیت او اغیزمنتیا کې مرسته کوي. خو په دې برخه کې یو شمېر ننګونې هم شتون لري لکه د منابعو نشتوالی چې د پوهنتونونو لپاره د کیفیت تضمین پروسې د تطبیق لپاره کافي مالي او انساني منابع نشته. همدارنګه د معیارونو نشتوالی او د ارزونې پروسې کمزوري، لکه د نامناسبو میتودونو کارول، د کیفیت د ښه والي په لاره کې خنډونه رامنځته کوي. د پوهنتونونو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی او د زده کوونکو او استادانو د ګډون کمښت هم د کیفیت تضمین اغېزمنوي ځکه چې د هغوی نظریات د کیفیت په ارزونه کې مهم دي. د نوښتونو او پرمختګ لپاره کم فرصتونه د کیفیت د لوړولو پروسه کې خنډونه جوړوي چې ټولې دغه ننګونې د لوړو زده کړو د معیارونو په ښه کولو کې جدي خنډونه دي(Kumar et al, 2020).

## څېړنیزه خلا

سره له دې چې د اکاډمیک اعتبار ورکونې په نړیوالو پوهنتونونو کې پراخ بحثونه لري، خو لا هم د افغانستان په تعلیمي مؤسسو کې د اعتبار ورکونې د پروسې او د استادانو د نوښتیزو برنامو ترمنځ اړیکې ته لږه توجه شوې ده خو دا چې د استادانو نوښتونه څنګه د اعتبار ورکونې پر کیفیت اغېزه لري، تر ډېره نامعلومه پاتې ده. همداراز د استادانو د نوښتیزو برنامو د پلي کېدو، ارزونې، او ملاتړ اړوند معیاري میکانیزمونه، پالیسۍ، او علمي ارزونې کمې دي. له همدې امله یوه علمي خلا شتون لري چې د اعتبار ورکونې معیارونه، د استادانو نوښت، او د تعلیمي کیفیت تر منځ اړیکه روښانه کړي. دغه څېړنه هڅه کوي دا خلا ډکه کړي، د نوښت او اعتبار ورکونې د تقاطع پر بنسټ تحلیلي چوکاټ وړاندې کړي، او د علمي پراختیا لپاره بنسټیزه څېړنیزه پوهه رامنځته کړي.

## د څېړنې پوښتنې

- د اکاډمیک اعتبار ورکونې په پروسه کې د استادانو نوښتیزې برنامې څه رول لري؟
- د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او استادانو نوښتیزې برنامې څه اړیکه سره لري؟

- د هېواد په پوهنتونونو کې د استادانو نوښتیزو څېړنو د رامنځته کېدو په وړاندې کومې ستونزې وجود لري؟

## د څېړنې موخې

- د اکاډمیک اعتبار ورکونې په پروسه کې د استادانو د نوښتیزو برنامو تحلیل؛
- د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسې او استادانو د نوښتیزو برنامو تر منځ اړیکې څېړل؛
- د هېواد په پوهنتونونو کې د استادانو د نوښتیزو برنامو په وړاندې شته ستونزې څېړل او مناسبې حل لارې وړاندې کول.

## څېړنیزه تګلاره

دغه څېړنه په کیفي- تحلیلي او تشریحي – پرتلیز مېتود ترسره شوې چې په کښې نړیوالې مقالې مطالعه شوي دي او په هېواد کې له شته شرایطو سره پرتله شوي، ستونزې په ګوته شوي او مناسبې حل لارې وړاندیز شوي دي.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د کیفیت د تضمین پروسه د پوهنتونونو د تعلیمي معیارونو او د څېړنې فعالیتونو د ارزونې لپاره ضروري ده. د کیفیت د تضمین پروسه باید شفافه، منظمه، او د نړیوالو معیارونو سره همغږې وي. د کیفیت د تضمین پروسې په تطبیق کې ځینې خنډونه شته لکه د منابعو نشتوالی، د سمو معیارونو او پروسیجرونو نشتوالی، او د استادانو او ادارو ترمنځ د همغږۍ کمښت. همدارنګه د دې پروسې مؤثریت د داخلي او بهرنیو ارزونو پراساس ارزول کېږي چې د پوهنتونونو د پرمختګ او د زده کړې د کیفیت د ښه کولو لپاره مهم دي(Mussawy, 2020). د پوهنتونونو اکاډمیک اعتبار ورکونه یوه داسې پروسه ده چې د لوړو زده کړو د مؤسسو د کیفیت د ارزونې او تضمین لپاره کارول کېږي(Smith & Johnson, 2019). د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه د پوهنتونونو ترمنځ د سیالۍ د رامنځته کولو او د علمي معیارونو د لوړولو لامل ګرځي. هغه پوهنتونونه چې د اکاډمیک اعتبار لرونکي دي په نړیوالو رتبه بندیو کې ښه ځای لري او د نړیوالو زده کوونکو په راجلبولو کې بریالي دي(Martin, 2023). علمي اعتبار ورکونه د تحصیلي مؤسسو د کیفیت او اعتبار د ارزونې یوه مهمه پروسه ده. دا پروسه د مختلفو معیارونو او مرحلو له مخې ترسره کېږي چې د ښوونیزو پروګرامونو او کړنو کیفیت تضمین کړي. د علمي اعتبار ورکونې پروسه مختلف معیارونه لري، دغه معیارونه معمولاً د تعلیمي پروګرامونو د کیفیت، د پوهنتون د مدیریت سیستم، د زده کوونکو ملاتړ، او د څېړنې د کیفیت په اساس ټاکل کېږي. همدارنګه د معیارونو ویش د داخلي او بهرنیو ارزونو، د استادانو او کارکوونکو د وړتیاوو، او د تعلیمي پروسې د مؤثریت په بنسټ هم ترسره کېږي. دا معیارونه د کیفیت د لوړولو او د پوهنتونونو د اعتبار په ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې عبارت دي له:

۱ - ښوونیز معیارونه: د تعلیمي پروګرامونو د محتوا او کیفیت ارزونه چې د زده کړې او تدریس معیارونه پکې شامل دي(Smith & Jones, 2020).

۲ - د استادانو وړتیا: د استادانو علمي او مسلکي وړتیاوې چې د تدریس او څېړنې په برخه کې د هغوی تجربه او مهارتونه ارزوي(Smith & Jones, 2020).

۳ - د محصلانو ملاتړ: د زده کړیالانو د ملاتړ سیستمونه لکه مشورتي خدمات، د زده کړې مواد، او د علمي پرمختګ فرصتونه او برنامې(Smith & Jones, 2020).

۴ - د څېړنې ظرفیت: د مؤسسې د څېړنیزو فعالیتونو کیفیت او د نوښتونو ملاتړ چې د اعتبار لپاره یو مهم معیار دی(Lee, 2021).

۵ - د شفافیت او حساب ورکولو سیستم: د مؤسسې مدیریت او د پروسو شفافیت یو مهم معیار دی چې د اعتبار ورکونې پروسې ته اعتبار ورکوي(Garcia, 2022).

همدارنګه دا پروسه مختلفې مرحلې لري چې د دې مرحلو له پوره کولو وروسته اکادمیک اعتبار تر لاسه کیږي او په نړۍ کې د همدې اکاډمیک اعتبار په واسطه پوهنتونونه ارزول کیږي او په نړیواله طبقه بندۍ کې خپل ځای پیدا کوي. نړیواله طبقه بندۍ کې د شاملوالي لپاره مهم معیارونه وجود لري چې د پوهنتونونو د تعلیمي پروګرامونو کیفیت، د څېړنې فعالیتونه، د استادانو د وړتیاوې، د زده کوونکو ملاتړ او د مالي منابعو په اساس طبقه بندي کیږي. همدارنګه د نړیوالو معیارونو سره سم د پوهنتونونو د اعتبار او د هغوی په کچه د نړیوالو همکارۍ پروژو شتون هم د طبقه بندۍ لپاره مهم دی. دغه معیارونه د پوهنتونونو د کیفیت او د نړیوالې ټولنې سره د اړیکو په پراختیا کې مرسته کوي(Miller, 2019).

۱ - خپلواکه ارزونه: د مؤسسې د داخلي ارزونې پروسه چې د کیفیت د معیارونو په اساس د خپلو کړنو ارزونه کوي(Miller, 2019).

۲ - بهرنۍ ارزونه: د بهرنیو متخصصینو او د اعتبار ورکونکو ادارو لخوا د مؤسسې ارزونه چې د کیفیت او معیارونو له ارزونې وروسته یې په اړه راپورونه چمتو کوي(Johnson, 2020).

۳ - د راپور چمتو کول: د ارزونې پایلې په یوه راپور کې ترتیبول چې د اعتبار ورکونې ادارې ته وړاندې کیږي او د همدې راپور او شواهدو په اساس د اعتبار تصمیم یې نیول کیږي (Thompson, 2021).

۴ - د اعتبار ورکونې پرېکړه: د اعتبار ورکونې ادارې لخوا د ارزونې راپور په اساس د اعتبار ورکونې یا رد کولو پرېکړه او مؤسسې ته استول (Roberts, 2022).

۵ - د پرمختګ پلان: که چیرې اعتبار ورکړل شي، د مؤسسې لپاره د راتلونکي پرمختګ او د کیفیت د لوړولو پلان ترتیبول (Anderson, 2023).

د پوهنتونونو د اعتبار ورکونې پروسه د کیفیت تضمین لپاره یوه مهمه وسیله ده چې د تعلیمي برنامو او د استادانو نوښتونو ارزونه کوي. د نوښتیزو برنامو هدف دا دی چې د تدریس او تحقیق په برخه کې نوې لارې چارې او تخنیکونه معرفي کړي چې د زده کړیالانو د زده کړې تجربه لوړه کړي (Miller, 2020). د اکادمیک اعتبار ورکونې پروسه د تعلیمي مؤسسو لپاره د کیفیت او اعتبار د ساتلو په هدف یوه حیاتي پروسه ده چې د محصلانو او ټولنې لپاره د غوره تحصیلي خدماتو په وړاندې کولو کې مرسته کوي.

## د څېړنې محدودیتونه

د اعتبار ورکونې پروسې په اړه کم پوهاوی او د معلوماتو نشتوالی د څېړنو او څېړونکو حمایت نه کول او نه تشویقول، د انساني منابعو کمښت چې له ډلې یې د هېواد په پوهنتونونو کې د اعتبار ورکونې پروسې لپاره د ځانګړو بستونو او کسانو نشتون، اقتصادي او مالي محدودیتونه او د ټولو اړخونو تفصیلي څېړنې او ارزونې لپاره د وخت کمښت د دې څېړنې له محدودیتونه څخه دي.

## پایله او بحث

### اکاډمیک اعتبارورکونې پروسه کې د کادري غړو د نوښتیزو برنامو حالت

نوښت لرونکي پروګرامونه د استادانو لپاره د نوو تخنیکونو، میتودونو، او ټیکنالوژیو په کارولو کې مرسته کوي چې د تدریس کیفیت لوړ کړي. دا برنامې د استادانو د مسلکي پرمختګ لپاره مهمې دي او هدف یې د علمي فعالیتونو د نوښت

او کیفیت لوړول دي (Garcia, 2021). د دې برنامو له لارې، پوهان کولی شي د تازه علمي څېړنو او نوو تعلیمي میتودونو سره آشنا شي، چې د زده کړیالانو لپاره د غوره زده کړې ځانګې رامنځته کړي.

د یوې مطالعې پایلې ښیي چې د نوښتیزو برنامو له لارې روزل شوي استادان د زده کوونکو د زده کړې په پایلو کې د پام وړ ښه والی راولي. په اوسني وخت کې د ډیجیټلي ټکنالوژۍ پراختیا د پوهنتونونو د اکاډمیک اعتبار ورکونې او د استادانو د نوښتیزو برنامو په برخه کې نوې لارې پرانیستې دي (Richardson, 2022). د یو څېړونکي په وینا، د مجازي زده کړو پلټفارمونو او د انلاین ارزونې وسایلو د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه اسانه کړې او د استادانو د روزنې لپاره یې نوې فرصتونه رامنځته کړي دي. د استادانو نوښتیزې برنامې یوازې د دوی په مسلکي پرمختګ کې رول نه لري، بلکې د زده کوونکو په زده کړه او د پوهنتون په علمي فضا هم مثبته اغېزه کوي. د اکاډمیک اعتبار ورکونې او نوښتیزو برنامو اغېزمنتوب د پوهنتون د مدیریت په کیفیت او د پلي کوونکو ادارو په ژمنتیا پورې تړلی دی (Kim, 2023).

څېړنه ښیي چې د پوهنتون مدیریت باید د دې پروسو د بریالیتوب لپاره اړین مالي او بشري سرچینې برابرې کړي. دا څېړنه د پوهنتونونو د اکاډمیک اعتبار ورکونې پروسه او د استادانو نوښتیزې برنامې څېړي. د څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د پوهنتونونو د علمي کچې د لوړولو او د استادانو د مسلکي پرمختګ په برخه کې د پام وړ معلومات وړاندې کوي (Garcia, 2021). د یو څېړونکي په وینا، د پوهنتونونو اکاډمیک اعتبار او د استادانو نوښتیزې برنامې د لوړو زده کړو د راتلونکي لپاره حیاتي اهمیت لري(Taylor, 2018). دا او دې ورته د ډېرو څېړنو پایلو ښودلې ده چې پوهنتونونو کې د اکاډمیک اعتبار لپاره د کادري غړو نوښت لرونکي څېړنې مهمې دي او د تدریس ترڅنګ یې اړتیا محسوسه ده. دا چې زموږ د پوهنتونونو په پرمختګ کې د علمي اعتبار ورکونې پروسه څه ډول په سمه بڼه پرمخ ولاړه شي، د پوهنتونونو د عمده ستونزو حل ته اړتیا ده.

د هېواد پوهنتونونو کې د کادري غړو د نوښت لرونکو څېړنیزو چارو مخې ته لویې او وړې ستونزې موجودې دي چې د دې ستونزو د لمنځه وړلو لپاره تر هر څه وړاندې د تضمین کیفیت د شته برنامې د ځینو برخو تعدیلاتو ته اړتیا لیدل کېږي، اوس مهال چې د تضمین کیفیت یا اکاډمیک اعتبار کومه پروسه پوهنتونونو کې تطبیقیږي، یوولس معیارونه لري او هر معیار خپلې کاري ساحې لري چې تر ډېره یې د پوهنتونونو استادان د کادري او څېړنیزو چارو څخه په اداري چارو کې ډېر زیات مصروف ساتلي دي. د هېواد د پوهنتونونو استادان د کیفیت د تضمین او اعتبار په پروسو کې مهم رول لري، خو د دوی مکلفیتونه او بې ځایه مصروفیتونه د دوی د مؤثریت په لاره کې خنډونه جوړوي. استادان باید د تدریس، څېړنې او د زده کوونکو ملاتړ کې فعال وي، مګر د اداري او بې ځایه کارونو له امله د دوی وخت محدود شوی دی. دغه بې ځایه مصروفیتونه د کیفیت د لوړولو لپاره د اړینو فعالیتونو مخنیوی کوي او د استادانو د کار کیفیت او د زده کوونکو تجربې باندې منفي اغیزه لري (Mussawy, 2020). د استادانو د دندو واضح تعریف او د بې ځایه مصروفیتونو کمول د کیفیت د تضمین پروسې لپاره اړین دي. مختلفې کمېټې دي، مختلف کارونه دي، هره ورځ یو استاذ د تدریس په خوا کې د کمېټو د اداري کارونو د پرمخ وړلو مسؤلیتونه لري، چې په دې سره د استاذ د تدریس او څېړنیز کاري بهیر ټکنی کېږي او د مطلوب مصروفیت مخه په نامطلوب مصروفیت کې ډب کېږي، مثلاً یو استاذ باید په اوونۍ کې تر اتلس کریډیټونو پورې تدریس هم وکړي، د تضمین کیفیت مرکزي او فرعي کمېټو کې د غړي او مسؤل په حیث هم پاتې شي، خپل ترفیعاتي څېړنیزې چارې دې هم پرمخ یوسي، چې دغه ترفیعاتي بهیر هم له یو عالم بروکراسۍ او ستونزو ډک دی او خورا لوی زړه چاودون غواړي او د دې تر څنګ نووښت لرونکي څېړنې هم ټولنې ته وړاندې کړي چې دا چاره ډېره سخته او د ډېر کار او منډې غوښتونکې ده. لومړی خو د تدریس بهیر پرمخ وړل یو اساسي کار دی او کافي انرژۍ ته اړتیا لري، بیا په تدریس کې اوسنی کردیډیټ سیستم چې استاذ په کې ډېر مصروف شوی او د ناکامو او محرومو محصلینو د کورسونو له چارو نه شي اوزګارېدی، ورپسې د ترفیاتي بهیر مغلق اداري سیستم چې د یو استاذ لپاره ډېرې ستونزمنې مرحلې په مخ کې لري، بیا د تضمین کیفیت په کمېټو کې په اداري بیروکراسۍ اخته کېدل او د دې تر څنګ په پوهنتون کې د استاذ لپاره د مناسبو امکاناتو نشتون، لکه د فامیلي اوسیدو ځای او سهولتونو نشتون، مناسب انټرنیټ نشتون، د څېړنو د ترسره کولو

مناسبې حق الزحمې نشتون، د معیاري لابراتوارونو او کتابتونونو نشتون، د ساحوي څېړنو لپاره د امکاناتو نشتون، ټول هغه څه دي چې د کادري غړو د نوښت لرونکو څېړنو مخه یې بنده کړې ده او په دې برخه کې یې خورا لویه تشه رامنځته کړې ده.

## د اکاډمیک اعتبار ورکونې او استادانو د نوښتیزو برنامو ترمنځ اړیکه

د علمي اعتبار ورکونې او د استادانو نوښتیزې برنامې د لوړو زده کړو د کیفیت د لوړولو لپاره مهمې برخې دي، چې یو له بل سره نږدې اړیکې لري. د اعتبار ورکونې پروسه د پوهنتونونو او تحصیلی مؤسسو د کیفیت او اعتبار د ارزونې لپاره یوه بنسټیزه وسیله ده، پداسې حال کې چې د استادانو نوښتیزې برنامې د تدریس او تحقیق په برخه کې نوې لارې چارې او تخنیکونه معرفي کوي چې د ځینو اړینو اړیکو شودنه یې په لاندې ډول سره کوو:

۱ - د کیفیت تضمین: اکاډمیک اعتبار ورکونه د تعلیمي پروګرامونو د کیفیت ارزونه کوي چې د استادانو د نوښتیزو برنامو د پلي کولو له لارې د تدریس او زده کړې کیفیت لوړوي (Garcia, 2021). نوښتونه د استادانو لپاره د نوو میتودونو او تخنیکونو په کارولو کې مرسته کوي چې د اعتبار ورکونې پروسې باندې مثبته اغېزه لري.

۲ - مسلکي پرمختګ: د استادانو نوښتیزې برنامې د هغوی د مسلکي پرمختګ لپاره مهمې دي چې د اعتبار ورکونې پروسې په ترڅ کې د استادانو د وړتیاوو او مهارتونو ارزونه کېږي (Huang, 2022). د نوښتونو پلي کول د استادانو د علمي فعالیتونو د کیفیت لوړولو کې مرسته کوي چې د اعتبار ورکونې پروسې لپاره یوه مهمه برخه ده.

۳ - د زده کړیالانو تجربه: د استادانو نوښتیزې برنامې د زده کړیالانو د زده کړې تجربه لوړوي چې د اعتبار ورکونې پروسې په ارزونه کې مهم فکتور دی (Smith & Jones, 2020). د نوښتونو له لارې پوهنتونونه کولی شي د زده کړیالانو د رضایت او لاسته راوړنو په برخه کې مثبتې پایلې ترلاسه کړي چې د اعتبار ورکونې لپاره اړینې دي.

۴ - د شفافیت او حساب ورکولو سیستم: د اعتبار ورکونې پروسه د شفافیت او حساب ورکولو په اساس ولاړه ده چې د استادانو د نوښتیزو برنامو د ارزونې لپاره هم مهمه ده (Johnson, 2021). د نوښتونو د پلي کولو په ترڅ کې پوهنتونونه باید د شفافیت او حساب ورکولو سیستمونه پیاوړي کړي ترڅو د اعتبار ورکونې پروسې ته وده ورکړي.

## د هېواد پوهنتونونو کې د نوښتیزو څېړنو د رامنځته کېدو په وړاندې ستونزې

۱ - مالي محدودیتونه: د نوښتیزو پروګرامونو د پلي کولو لپاره د کافي بودیجې او مالي سرچینې نشتوالی چې د پروګرامونو د کیفیت او تطبیق په برخه کې خنډونه جوړوي.

۲ - د روزنې کمبود: د استادانو لپاره د نوښت په برخه کې د روزنې او ورکشاپونو نشتوالی چې د نوښتونو د پلي کولو پروسه ستونزو سره مخ کوي.

۳ – د غوره څېړونکو د لازم تشویق نشتون: هر کال باید د هېواد په سطحه د غوره څېړونکو لپاره مادي او معنوي امتیازات په پام کې ونیول شي او څېړنې یې تطبیقي ادارو ته ورسول شي، د دې برنامې نشتون.

۴ – د هېواد په سطحه د فعال څېړنیز مرکز نشتون: د څېړنیز مرکز نشتون د هېواد د اکاډمیکو شخصیتونو د نوښتیزو چارو د پرمختګ پرمخ لوی خنډ دی چې ټول څېړونکي په یو پراګنده ګې کې ژوند تیروي (ایازی،۱۴۰۳).

۵ – د نړیوالو څېړنیزو ادارو سره د تماس نشتون: د نړۍ د ټولو ساینسي او اجتماعي علومو څېړنیزو مرکزونو سره د کاري رابطې نشتون چې د نوښتیزو څېړنیزو برنامو د پرمختګ مخنیوی کوي.

۶ – استاذانو ته پوهنتونونو کې د ژوند د سهولتونو نشتون: د نړۍ پوهنتونونو کې د کادري غړو د اوسېدو لپاره مناسب کورونه، مناسب پارکونه، د کادري غړو د ماشومانو لپاره وړيا ښوونځي، د پوهنتون وړيا روغتون او نور سهولتونه چې د انساني ژوند اړتياوې دي، د استادانو لپاره زموږ هېواد کې نه شته او که وي هم ډېر محدود او لږ دي.

۷ – استادانو ته د لازم فراغت نشتون: د څېړنيزو چارو د ترسره کولو لپاره د کافي وخت نشتون او د استادانو مصروف پاتې کېدل په ډېرو اداري چارو کې.

۸ – د هېواد په سطحه د يو داسې پوهنتون نشتون چې نړيوال اکاډميک اعتبار ولري او د نړۍ د نورو معتبرو پوهنتونونو په څېر خپلې علمي او څېړنيزې چارې مخې ته يوسي.

۹ – د استاذانو د ترفيعاتي بهير کړاوجن اداري طی مراحل: هر استاذ د خپلو علمي رتبو د ترلاسه کولو لپاره څېړنو او آثارو ليکلو ته مجبور دی، د څېړنو او آثار د ليکلو تر څنګ د اداري چارو بيروکراسی ډېره زياته ده، مختلفې فورمې او شواهد د دوسيې سره بايد مل شي چې کافي وخت نيسي او استادان يې د کاغذونو په وړلو راوړلو کې مصروف کړي دي.

## پايله اخيستنه

دغه څېړنه په پوهنتونونو کې د علمي اعتبار ورکونې پروسې او په ياده پروسه کې د استاذانو د نوښتيزو چارو او برنامو د حالت څېړنې ته ځانګړې شوې وه دا وښودل شوه چې د علمي اعتبار ورکونې پروسه د پوهنتونونو د ټولو علمي چارو د بشپړاوۍ او معياري کېدو لپاره يوه دوامداره او پايله ورکونکې پروسه ده او د پوهنتون د ټولو علمي او اداري برخو د بشپړتيا لپاره کارنده رول ترسره کولی شي. پوهنتونونه د محصلينو مسلکي روزنې ترڅنګ د پاليسي سازو او نوښتګرو ادارو په حيث هم د ټولنې د پرمختګ په يون کې د ګټورو کړنو د ترسره کولو رسالت په غاړه لري، د څېړنې په جريان کې وليدل شول چې زموږ د هېواد د پوهنتونونو د اکاډميک اعتبار موندنې مخې ته ستونزې ډېرې دي چې تر ډېره پکې استادان د خپلو مطلوبو اهدافو پرځای په نورو اداري چارو کې مصروف پاتې شوي دي. دا چې د اکاډميک اعتبار ورکونې يا تضمين کيفيت برنامه د خپلو معيارونو په درلودلو سره د پوهنتونونو د اعتبار لوړولو لپاره يو سيستماتيک او اغېزمن بهير دی، د وخت په تېرېدو سره د پايله ورکونکو کړنو په موخه بيا کتنې او سمونې ته اړتيا لري. د يادې برنامې په اډانه کې د استاذانو د نوښتيزو چارو د ترسره کولو په موخه يو لږ بدلونونو ته اړتيا ده. څېړنې وښودله چې پوهنتونونو کې استاذان د نوښت لرونکو څېړنو د ترسره کولو په مخ کې څومره ډېرې ستونزې لري او د دې ستونزو د اساسي حل څخه مخکې په دې برخه کې د پرمختګ يون ناشونی دی، استاذان بايد په دې برخه کې مالي محدوديتونه ونه لري، د مطلوب کادري مصروفيتونو پرځای اداري چارو کې مصروف نه شي. ترسره شوې څېړنې يې مناسبه حق الزحمه ولري، د څېړنو لپاره يې د هېواد په سطحه څېړنيز مرکز رامنځته شي چې د تطبيق کوونکو ادارو سره کاري تماس ولري او څېړنې تر تطبيق او د تطبيق پايلې بيرته تر څېړونکي پورې په يوې معنا دارې پروسې کې شاملې کړي. استاذانو ته د پوهنتونونو چاپېريال کې مناسب رهايشي کورونه برابر شي، لابراتوارونه او کتابتونونه غني او مکمل شي او داسې نورې اسانتياوې چې د څېړنيزو چارو د ښه والي سبب ګرځي رامنځته شي چې د دې څېړنې موندنو د شته ستونزو حل لارې په ګوته کړې دي. دغه څېړنه په کيفي-تحليلي او تشريحي – پرتليز مېتود ترسره شوې چې د وړانديزونو په تطبيق او ترسراوۍ سره به يې پوهنتونونه د مسلکي ښوونې او روزنې ترڅنګ د پاليسي جوړونکو مرکزونو په توګه هم د هېواد په پرمختګ کې خپل کاري مسير ومومي او په دې برخه کې به د پام وړ بدلون رامنځته شي.

## وړانديزونه

د پوهنتونونو د اعتبار ورکونې پروسه د استادانو د نوښتيزو برنامو د کيفيت او تاثير ارزونه کوي. په دې توګه، د نوښتونو د پلي کولو لپاره د مالي او مديريتي خنډونو لرې کول مهم دي ترڅو د تحصيلی پروګرامونو کيفيت او د زده کړيالانو تجربه

لوړه شي، د هېواد پوهنتونونو کې د شته ستونزو د حل لپاره لاندې حل لارې او وړاندیزونه د څېړنې د موندنو په اساس وړاندې کېږي چې:

۱ – مالي محدودیتونه باید د کادري غړو د معقولو اړتیاو په پام کې نیولو سره حل او فصل شي. اوس مهال استادان په داخلي او بهرنیو ژورنالونو کې د خپلو مقالو او څېړنو خپرولو لپاره مجبور دي چې پیسې هم ورکړي چې دا یوه ستره ستونزه ده. نورې نړۍ کې لیکوالو او څېړونکو ته د مقالو په مقابل کې کافي حق الزحمه ورکول کېږي او دلته له څېړونکي پیسې مصرفېږي چې همدې چارو د څېړنو مخه ډب کړې ده، باید مخنیوی یې وشي.

۲ – د روزنې په برخه کې د کادري غړو د څېړنیزو برنامو د نویو مېتودونو او نویو روشونو د زده کړې لپاره لازم سیمینارونه او کورسونه دایر شي چې زموږ کادري غړي د نړیوالو نویو څېړنیزو مېتودونو او روشونو سره اشنا شي او خپلې چارې په معیاري او منلي ډول ترسره کړي.

۳ – د غوره څېړونکو لپاره د مادي تشویق تر څنګ معنوي تشویق هم په پام کې ونیول شي، د کال غوره څېړونکي په صفت ونازول شي او د څېړنو قدرداني یې وشي.

۴ – د هېواد په کچه دې د څېړنو د انسجام او تطبیق یو فعال مرکز رامنځته شي چې د څېړونکو څېړنې وڅاري او تر تطبیق کوونکو ادارو پورې یې ورسوي او د تطبیق پایلې یې بېرته څېړونکي سره د نورو پرمختیاوو راوړلو په موخه شریکې کړي او همدارنګه د هېواد د څېړونکو او د نړۍ د نورو څېړونکو تر منځ د اړیکې زمینه سازي وشي چې د تجربو په شریکولو سره یو د بل مرستندوی واقع شي او په دې سره یو معنا داره پروسه رامنځته شي (حسیب الله،۱۴۰۳).

۵ – د څېړنو د انسجام او تطبیق مرکز په رامنځته کېدو سره د هېواد د څېړونکو او نورو نړیوالو څېړونکو ترمنځ د افکارو او تجربو د شریکولو زمینه سازي کول او په دې سره د نوښت لرونکو څېړنو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرول.

۶ – پوهنتونونو کې بشپړ اکاډمیک او خوندي ماحول رامنځته کول چې ټولو کادري غړو ته د پوهنتون ساحه کې مناسب بلاکونه جوړ شي، د پارک، جومات، کلینیک، دوکان او د ماشومانو د ښوونځیو اسانتیاوې په کې رامنځته شي چې په دې سره استاد د ژوند له ډېرو کړاونو خلاصون مومي او هم جسمي او په ذهني لحاظ علمي او څېړنیزو چارو ته اماده کې پیدا کوي او په ډاډمن زړه او ذهن سره خپلې مسلکي چارې پرمخ وړلی شي چې خورا ډېرې مثبتې پایلې پرې ترلاسه کېدلی شي.

۷ – د پوهنتون د تضمین کیفیت د ټولو اداري چارو لپاره اداري ستاف استخدام کول او ټولې اداري چارې په اداري متخصصینو پرمخ وړل چې په دې سره کادري غړي یوازې او یوازې تدریس او څېړنو ته لازم فرصت ومومي او خپل وخت د خپلو مسؤلیتونو سره په مطلوبو علمي لاسته راوړنو کې مصرف کړي.

۸ – د هېواد په سطحه یو بېلګه پوهنتون رامنځته کول چې په نړیوالو معیارونو برابر وي او د نړۍ د معتبرو پوهنتونونو په لړلیک کې شامل وي چې د هېواد د نورو پوهنتونونو د پرمختګ لپاره د یو الګو او بېلګې حیثیت ولري او نور پوهنتونونه هم قدم په قدم خپلې چارې په همدې سویه برابرې کړي.

۹ – د استاذانو د ترفیعاتي بهیر په برخه کې تجدید نظر وشي، د ترفیعاتو لپاره غوره څېړنه او اثر لیکل مهم وګڼل شي او دا نورې اداري چارې نهایي ساده او اسانه کړل شي چې استاذان یوازې او یوازې په څېړنو او موندنو کې مصروف پاتې شي او مطلوبې پایلې ترلاسه کړلی شي، د ترفیعاتي بهیر د اداري چارو ساده والی د استادانو لپاره ډېر کاري فرصت په لاس ورکولی شي.

## References


Anderson, J. (2023). *Developing improvement plans for academic accreditation*. *Journal of Higher Education Management, 15*(1), 45–60.

Anderson, T., Smith, J., & Brown, L. (2020). The impact of innovative programs on faculty research and teaching competencies. *International Journal of Educational Research, 102*, 101–115.

Garcia, M. (2021). The role of innovative programs in faculty development. *Educational Research Review, 10*(4), 112–130.

Garcia, M. (2022). Transparency and accountability in academic accreditation. *Educational Research Review, 10*(4), 112–130.

Garcia, M., & Peterson, J. (2021). The role of university management in academic accreditation processes and innovative programs. *Journal of Higher Education Management, 15*(2), 123–140.

Huang, W. (2022). Challenges in implementing innovative teaching methods. *Global Education Journal, 12*(3), 78–92.

Johnson, E. (2020). External review processes in higher education accreditation. *Journal of Academic Affairs, 9*(1), 15–29.

Johnson, E. (2021). Transparency and accountability in academic innovation. *Journal of Academic Affairs, 9*(1), 15–29.

Kim, O. (2023). The impact of digital technologies on academic accreditation processes. *International Journal of Educational Technology, 12*(2), 78–92.

Kumar, P., Shukla, B., & Passey, D. (2020). Impact of accreditation on quality and excellence of higher education institutions. *Revista Investigación Operacional, 41*(2), 151–167.

Lee, D. (2021). Research capacity and quality assurance in universities. *Higher Education Studies, 11*(2), 67–85.

Martin, A., Smith, B., & Johnson, C. (2023). The impact of academic accreditation on university rankings and international student recruitment. *International Journal of Higher Education, 12*(1), 45–60.

Miller, R. (2019). Internal evaluation practices in higher education. *Journal of Educational Assessment, 14*(3), 34–50.

Mukhatayev, A., Omirbayev, S., Biloshchytskyi, A., Kassenov, K., Toxanov, S., & Idiyatova, Y. (2024). Modeling the university's internal quality assurance system: The case of Kazakhstan. *Научно-аналитический журнал "Высшая школа Казахстана", 48*(4).

Mussawy, S. A. J. (2020). The challenges of quality assurance and accreditation in Afghanistan: A policy implementation analysis. *Journal of Comparative & International Higher Education, 11*, 72–76.

Richardson, S. (2022). The effects of innovative programs on student learning outcomes. *Journal of Educational Research, 11*(2), 101–115.

Roberts, L. (2022). Decision-making in accreditation processes. *International Journal of Educational Policy, 7*(2), 90–105.

Smith, J. (2019). Innovative research and academic accreditation in higher education. *International Journal of Educational Research, 12*(3), 45–60.

Smith, J., & Johnson, E. (2019). Academic accreditation processes in higher education: Quality assurance and evaluation. *Journal of Higher Education Policy and Management*, *41*(3), 234–250.

Smith, J., & Jones, A. (2020). Student support services and academic success. *Journal of Student Affairs Research and Practice, 8*(4), 56–72.

Taylor, S. (2018). The importance of academic accreditation and innovative programs for the future of higher education. *Educational Research Review, 10*(1), 67–80.

Thompson, M. (2021). Reporting and documentation in accreditation. *Journal of Higher Education Administration, 13*(1), 22–39.

World Bank. (2021). *Higher education and academic accreditation: Performance and student enrollment*. World Bank Education Reports.

ايازي، ح.، او مياخيل، م.ح. (1403) د ټولنيزو ستونزو په حل کې د علمي څېړنو ونډه، ستونزې او حل لارې. *افغان نړیوال اسلامي پوهنتون*.

## About the Authors

**Mr. Mohammad Hussain Miakhel,** *Lecturer, Department of Pashto Literature, Faculty of Education, Farah Institute of Higher Education, Farah, Afghanistan. <mh.miekhel@gmail.com>*
**Mr. Haseebullah Ayazi,** *Lecturer, Department of Chemistry, Faculty of Education, Farah Institute of Higher Education, Farah, Afghanistan. <ayaze1392@yahoo.com> ORICID: https://orcid.org/0009-0000-8602-4676*